بسم الله الرحمن الرحیم

## د ښځې او سړي اړیکه د نکاح په عقد سره تعریفیږي او د غربي تمدن چټلی بیا بازار ته د وړاندې کېدو قابلیت نه لري!

رزیل ورځپاڼه لیکونکي «امل هباني» پر خپله فیسبوکپاڼه لیکلي: «بېچاره، فقیرې او ذلیلې ښځې، چې تر فشاره لاندې دي او د اولادونو د مسوولیت او مېړونو د ظلم له امله طلاق نه شي اخیستلای. ښځو هڅه وکړئ کله مو چې مېړه نوې ښځې ته ورغی، نو له یوه ملګري مو استفاده وکړئ.» دغې کار د هغه پر وړاندې د غوسو یو موج راپورته کړ، نو هغه زیاته کړه: «ځکه د څو ښځو لرلو مفکورې د حل لار، له خپل ملګري استفاده کول دي.»

موږ دغه بې بنسټه او ناقصې خبرې ردوو، خو له باطل سره د مبارزې تر ټولو غوره لار، د هغه له منځه وړل دي. «امل هباني» پر خپلو فکري انحرافاتو ټینګار کوي او دین پر دې تورنوي، چې پر ښځو ظلم او تېری کوي. هغه په یوه ویډیو کې د خپل شیطاني فکر دفاع وکړه او ویې ویل: «دین د ښځو پر وړاندې تبعیض کوي او د هغوی جنسي حقونو ته یې پام نه دی کړی. ولې سړي ته د ډېرو ښځو کولو حق ورکړل شوی او ښځې ته یې د ډېرو مېړونو حق نه دی ورکړی؟» او ویې ویل: په ټولنیز ژوند کې سړې کړښې، د ښځې او سړي مشروع اړیکه ده او فعالان له دغو حقونو منع شوي او همدارنګه لازمه ده، په هغو دیني متونو او ټولنیزو مفاهیمو کې، چې پر ښځو ظلم کوي، تغیرات رامنځته کړو. امل هباني ته ورته کسان چې له غرب څخه اغېزمن شوي، د قوانینو د تغیر په هڅه کې دي او د حلارې او غربي سیکولار قوانینو په لټه کې دي.

موږ قانوني حق لرو چې د یوې فکري او عالي مبارزې په ترڅ کې له «امل هباني» پوښتنه وکړو، چې ایا سیکولاریزم ته د قوانینو بدلول او د اسلام ټولنیز قوانین لغوه کول، په سوډان کې د ښځو حالت ته ګټه رسولی شي؟ او ایا دا تغیر د اسلام د احکامو پر وړاندې د زنا او ګناه او له غرب څخه تقلید، حالت ښه کولی شي؟ په داسې حال کې چې موږ د مسلمان په توګه عقاید او شرعي احکام لرو او د هغو له امله رټل کېږو او ایا له دې امله موږ ښځې عدالت ته رسولی شو او هغوی له ځورونې ژغورلی شو؟

د لمر په شان روښانه حقیقت دا دی، چې د سوډان پانګه د غربي پانګوالو او سیاست په واسطه لوټل کېږي، چې ټولنه یې سیکولار کړې او د سوډان خلکو د غریب کېدو اصلي لامل دی. دغه راز د هغوی ژوند داسې کېږي، چې له دین څخه لیرې شي؛ هغه دین چې له هر ډول امر څخه پاک دی او د پاکو احکامو په ګوښه کولو او تحریف سره هغوی ته داسې ښیي، چې شرعي احکام نور دنیایي چارې نه شي اداره کولی. نو د سیکولاریزم حاکمیت، چې ښځې فحشا او فساد ته رادعوتوي، د حل لار بولي.

سیکولران د غربي ښکېلاکګرو لپاره یوازې یوه وسیله او د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د جګړې یوه برخه دي. دغه راز د ښځې او سړي ګټو ته ارزښت نه ورکوي او یوازینی فکر یې د احکامو د ځنډ او غربي پانګوالی قوانینو حلال ګڼلو په خاطر، د اسلام ځپل دي. هغوی د خپلو غربي پانګوالو اربابانو په خدمت کې دي، چې د اسلامي خاورو کنټرول یې په لاس کې دی. همدارنګه د ازادی کلتور او بشري حقونو په نامه یې د هغوی پانګې لوټ کړې، تر څو د غرب چټل ژوند په مسلمانو ښځو وتپي.

هغه غربي هېوادونه چې د ښځو حقونه یې جوړ کړي، د ښځو او د هغوی د غصب شوو حقونو لپاره مشکوک کمپاینونه کوي، په کومه بڼه چې هغوی ادعا کوي، موخه یې د ټولنې د شر او فساد په خاطر د

يوې وسيلې په توګه د ښځو کارول دي، څو يې پروګرامونه پلي شي او په اخلاقي چټليو کې پرمختګ وکړي.

په غربي هېوادونو کې د ښځو واقعيت ته په کتو، په غرب کې د ښځو د حقونو د نقض لوړه کچه ښيي، چې له هغوی يې غلاماني جوړې کړي او ځانونه يې د سړيو د شهواني هوسونو په واک کې ورکړي او دغه شمېرې رسمي ادارو خپرې کړي دي. دغه راز په انټرنېټ کې خپاره شوي، معلومات ښيي، چې ښځې په غرب کې له اقتصادي بحرانونو سره مخ دي او په نړۍ کې د ژوند له سختو شرايطو سره ژوند کوي او دغه حالت مخ پر لوړېدو دی. همدارنګه دغه شمېرې ښيي، چې غربي تمدن ښځې له انسانيه محرومې کړي، عفت او عزت يې له منځه وړی او ښځه يې د ګټو لاسته راوړلو په ماشين بدله کړې ده. دغه راز کورنۍ يې له منځه وړي او جنسي اړيکه يې له ښځو سره د اړيکې اساس ګرځولې ده. کله چې د ښځې د ځوانۍ قوت له منځه ولاړ شي، د زنګ وهلي ماشين په حيث پاتې کېږي! ايا «امل هباني» د سوډان د ښځو لپاره دا ډول حالت غواړي.

موږ خوسا شوو سيکولرانو ته وايو، مسلمانان هغه خلک دي چې په اسلام باور او پر خپله عقيده او احکامو ايمان لري او بدلولو ته يې اړتيا نشته، چې د ښځو عفت او پاکي ترې واخلي. همدارنګه دا نامنطقي ده چې په ناوړه او بد اخلاقه شعارونو کې بدلون رامنځته کړي. په بل عبارت موږ د مسلمانانو په توګه شرعي احکام چې د ښځې او سړي اړيکه د انسان د نسل بقا بولي، نه جنسي اړيکه؛ خو «امل هباني» هغه د ښځو او سړيو تر منځ د عدالت اساس بولي. موږ دا منو چې جنسي غريزه اشباع کولو ته اړتيا لري، خو نه دا چې ازاد پرېښودل يې موخه وګرځول شي. په همدې دليل اسلام په ټولنه کې د جنسي فکر عامول، د ټولنې په زيان بولي او هغه مادي واقعيتونه چې د جنسي تحرک لامل ګرځي، د فساد لامل بولي. نو د ښځې او سړي خلوت، تبرج او يوبل ته يې زينت ښودل منع شوي او په ژوند کې د ښځې او سړي تر منځ همکاري، په داسې احکامو سره تعريف شوې، چې پاکې او عفت يې ساتي. دغه راز نامشروع اړيکې يې محدودې کړي او د واده کولو په وسيله يې تنظيم کړې دي. اسلام په ټولنه کې د هغه څه مخه نيسي، چې د جنسي غريزې د تحريک لامل کېږي او په ځانګړو مواردو کې يې د شريعت له لوري محدودول، د بقا د ساتلو لپاره دي. همدارنګه د ښځې او سړي اړيکه هغه ده، چې اسلام ټاکلې او د غربي تمدن خوسا افکارو ته ځای پکې نشته، چې بازار موندنه ورته وکړي.

دا نقشې د غرب او پر هغوی پورې تړلو له لوري، د مسلمانو نجونو او هلکانو تر منځ ترويج شوې او تثقيف يې واضح دی. موخه يې په مسلمانانو کې د غربي تمدن عامول دي، څو ټولنه تجزيه او کورنۍ له منځه يوسي او نسل يې بې دينه له دنيا ولاړ شي. خو دغو نقشو د اسلامي ټولنې پر مسلمانانو، اسلامي دولت ته د کار کولو، د شرعيت حاکمولو او دعوت په برخه کې ناوړه اغېزه کړې ده. خو ډېر ژر به د الله تعالی په نصرت او د نبووت پر منهج اسلامي دولت ايجاد شي او همدارنګه د غرب ټولې نقشې به له منځه ولاړې شي. انشاءالله!

**ليکوال: استاد غادة عبد الجبار (أم أواب) – ولاية سودان**

**ژباړن: حبيب الله حبيب**

**۱۴۴۲هـ.ق، د ذو القعدې ۲۰مه**

**۲۰۲۱م، د جولای ۷مه**